# ستوري مجله څلورمه ګڼه

# ۲۰۰۸ ع کال



زمونږ ملک دګڼ قامونو شریک کور دی
په دې ملک کې هر یو قام د بل قام ورور دی
د خپل شمېر په کچ حق هر قام ته پکار دی
هسې نه چې د یو تش د بل ډک شکور دی

اروابناد ستوري

ستوري

د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنې خپلواکه،
ناپېیلې، کولتوري او ادبي خپرونه

لومړی کال، خلورمه ګڼه، وږی- تله، ۱۳۸۷ ل

غوسه د صحت او یادښت دښمنه ده
لرغونی افغانستان
د پور واده
د کونړ سیند وایي
د ستورو کاروان
ښتین او پښتو د ساپوهنې...

زما پیغام د میني او امن پیغام دی

همایون خان

Stori

Independent, Cultural and literary magazine

1st Year, 4th Issue (Sep- Oct) 2008

زما احساس باندې کوم ړوند ملا خواري کړې ده
څکه مې ورور زما په سر سوداګري کړې ده

چاړه یې ایښې ده پخپله مرۍ زور ورکوي
خدای خبر چا مې په دې ورور جادوګري کړې ده
څومره بوله دی وایي ځان ګټم خو ځان به بایلم
په دې ضمیر مې چا په غلا څه باداري کړې ده
د پښتنو په سر کې لو دی د کوپړو خرپا ده
ربه د چا ښېرو ناترسه لوګري کړې ده
هېڅ به ونه ګټي چې ما وژني خو ځان وژني
هسې یې ځان سره دوکه کې جواري کړې ده
له خپله کوره به ځان خلاص کړي خو واکدار به نشي
چا چې د بل فکر د واک ذمه واري کړې ده

کوټواله دابه ستا د ښېټ نیکه دعا وه ګوندې
چې پښتنو بچو له یې خو لپې زاري کړې ده

عرفان الله کوټوال

www.kabirstori.com

## Stori Magazine 4th Issue

## Sep.-Okt. 2008

# د ستورو کاروان

## غزل

**محمد داود صدیقي یوسفزی**

د سترګو تاو دې په لیمو کې نغښتی
ژوندون مې تا سره لمبو کې نغښتی

د اوښکو رود مې په ګرېوان کې راغی
ستم د مینې دې کتو کې نغښتی

سپینې سپوږمۍ چې په ژړا مې نه کړې
ښایست دې ما سره جلوو کې نغښتی

نن مې ژوندون په بې کسي کې شمار دی
د وخت ظالم سره پنجو کې نغښتی

ستا د بېلتون په شپو به ځان ژړوي
د چم ګاونډ په یارانو کې نغښتی

چېرته مې سترو ارمانو کې ګوره
صدیقي یار دې زولنو کې نغښتی

***

## غزل

**عرفان الله / کوټوال**

لکه چې نور مې د توبې هغه اثر ماتېږي
ځکه مې ستاد زلفو سوري ته نظر ماتېږي

قدم په مخکې اخلم پښې مې بېرته شاته راځي
تکل مې کړی چې درځمه خو سفر ماتېږي

سلور ښېلمین شفق دې واخیست له چینې صنمه
خدایږو وېرېږمه نامردي چې کوثر ماتېږي

تا که په سترګو کې سرخي د خمارو اړوله
ګوري قتلېږمه په زړه کې مې خنجر ماتېږي

د زلفو وریځې پرې راواړوه که خون یې نه اخلې
ستا د رخسار په ځرک زما د باز وزر ماتېږي

بس په ډنډر دپاسه چوپه خوله کوټواله ښه ده
که چېرته لړه را مسکۍ شوله ډنډر ماتېږي

***





## غزل

**عبیدالله سیلاب**

کله چې په جنګ د نظر واوښتي
پوی شه چې د مینې په سر واوښتي
اوس خو به د مینې زور منې کنه
کلک په عقیده وې اخر واوښتي
بیا به درته زه ملامت نه ښکارم
کله که په لور د ګودر واوښتي
په ښکته پښتونخوا مې سلام وایه
که ولاړې په دره د خیبر واوښتي
و به ژاړې سترګې به دې ډکې شي
کله که زموږ په اختر واوښتي
څه پرې که سیلاب درته رایاد شي بیا
یو ځل چې یې خاورې په سر واوښتي

***

## غزل

**اختر محمد مومند**

نغمه چې د تارونو له سیاره راوځي
بس داسې خوږه ځړیکه له پرهاره راوځي
تصویر ستا د رخسار پکې د کوزه نه بروینم
دستورو له منځونو نه هنداره راوځي
سلګۍ مې ډېر ونیوې د ستوني په درشل کې
خو بیا هم یوه نیمه بې اختیاره راوځي
چنار خو له خپل زانه اور اخستی هسې ندی
ګودر ته مازیګر کې سندر ماره راوځي
دې تږي تخیل ته به مې لپه تېپې راوړي
ملالې غونډې پېغله ده سرشاره راوځي
الله که را زلمی کړه دا زما فرهادي عظم
شریني پدې غرونو کې په لاره راوځي
یرېږم چې نظر مې ورته ټیټ نه شي مومنده
لمبې یې نن د سترګو له خماره راوځي

***

## غزل

**محمد ابراهیم حقمل صافي**

څه دولتونه مې پکار خو نه دي
د شرابي سترګو جانان غواړمه
چې په ښایست کې ښاپېرۍ وي ربه
هغه ملګرې د خپل ځان غواړمه
ځانته شین خال د جانان نه خوښومه
ورسره پوزه کې پېزوان غواړمه
که دې ډیوې سترګې د بل نصیب شوې
پل چرخي سره زندان غواړمه
په تمانچو سترګې چې تا ویشتلې
د ټپي زړه درنه تاوان غواړمه
زه د عصمت ملنګ نه هره ورځې
د یاراني ترېنه داستان غواړمه
د بل وطن پېغلو صفت مه کوئ
حقمل صافي لور د افغان غواړمه

***

## غزل

**عصمت الله ملنګ**

چې ښاپېرۍ مې له وطن نه تښتي
واپس وېنې مې له تن نه تښتي
خزان راغلی تور کارغان دي پکې
مستې بلبلې د خپل بڼ نه تښتي
هغه درې به بیا زرغونې نشي
شپونکي رمه د غره لمن نه تښتي
چا زیارتونه د ولیانو وران کړه
ملنګ بابا مې له مسکن نه تښتي
چا یې جنډې چا یې پنجرې دي وړې
زمونږه مړي له کفن نه تښتي
غزل یې ګورې ښاپېرۍ په زړه کې
روح د عصمت اوس له بدن نه تښتي

***





## غزل

**ف\ حیامي**

زه یې ښایسته لکه د ګل غواړمه
تل ښاد اباد مې خپل کابل غواړمه
چې مې وطن ته څوک په سپکه ګوري
هغه د خدای پاک نه پاګل غواړمه
زما وطن لکه ایمان دی ماته
ځکه شیطان پکې وژل غواړمه
په دې هېواد مې خزان نه شي پېرزو
ورته سپرلی ځکه راتلل غواړمه
دلته بې قدره اوښکې ډېرې تویې شوې
نور ددې خوار ولس خندل غواړمه
چې پکې مینه څوک کولی نه شي
د داسې کلي ورانېدل غواړمه
افغانستانه په ماګران وطنه
دا رقیبان درنه شړل غواړمه
د حیامي جانان جانان وطنه
په هر یو بیت کې دې ستایل غواړمه

***

## غزل

**مامور خان غمشریک**

تږی یم سېراب مې کړه سالار مې شه
مه مې وژنه ومې ساته یار مې شه
زلفې دې زندۍ کړه ما پرې ځوړند کړه
زه دې یم منصور جانانه دار مې شه
زه به سر او زړه پکې وروپېایم
خدای ته به یې ورسوو تار مې شه
تور یمه د مینې اور سېزلی یم
ښکلې کړه هر څه راته سینګار مې شه
زه یو نابلده مسافر یمه
ور مې وله ښکلیه خدای ته لار مې شه
ودې مرمه زه که درته سترۍ شم
اې د اشنا غمه په زړه بار مې شه

***

## څلوریزه

**عصمت الله ملنګ**

درته به ونیسم زولې د منت
شمعې ازار چې د پتنګ وانخې

ستا دې قسم وي په دا دنګه ونه
نورې ښېرې د خوار ملنګ وانخلې

***

## د فنا کاروان

**سید عبیدالله نادر**

یو شېبه لکه د ګرد په شان ښکاره شوم
په حیرت کې د جهان په ننداره شوم
لا په خپل عجز مې نظر نه وو لوېدلی
چې لدې دارِ فنانه اواره شوم

چې ښکاره په دې چمن کې یو نظر شوم
د فنا په دې کاروان کې هم سفر شوم
خوله مې خلاصه یو لمحه لکه غوټۍ کړه
د خزان په لاس په بڼ کې بیا پر پر شوم

ډېر عمرونه په تحقیق وم سرګردان
چې ځان پوه کړم په اسرار ددې جهان
پس له ډېرو ګروېږنو او څېړنو
دومره پوه شوم چې لا نه پېژنم ځان

***





## غزل

**مطیع الله سراچه وال**

اې د کنړ خلکو دا احسان دې مونږ منو
تنر کې زړېدلی قهرمان دې مونږ منو

ټول خلک دې پښتانه دي د وطن په مینه مست دي
په غرو کې دې اوسېږي هغه زمیران دې منو
ستاسو قرباني باندې ملت فخر کوي
د توري او مېړانې ګل غازیان دې مونږ منو
د ستوري په شان خلک ګوره تا دې زېږولي
رښا یې پښتونخوا کړه داسې افغان دې مونږ منو
د لر او بر پښتون دپاره ځان یې وقف کړی وو
دا ستوري د سبا پاس په اسمان دې مونږ منو
هغه ستوري وو مونږ لره سبا د امېدونو
افسوس ستوری فنا شو دا خفګان دې مونږ منو
مرام یې وو خدمت تل له اوله و پښتنو ته
یووالی یې مرام وو دا ارمان دې مونږ منو

ستا په پل باندې به درومو وایم زه سراچه وال
که ژوند وو خوشحالۍ وه که زندان دې مونږ منو

***

## د ادب کور

**نسیم ستوري**

لرو بر راباندې ګران دی
خپل کولتور راباندې ګران دی
چې د قام په مینه مست دی
هغه سر راباندې ګران دی
تل یې خاوره د ننګ ډکه
خړ خیبر راباندې ګران دی
د ادب دی ښکلی کور
پېښور راباندې ګران دی
دا زما د نسیم کلی
خپل تنر راباندې ګران دی

## ښځه

**عبدالغفور لېوال**

د عرش له نوره راوتلې چینه
د عشق له خاورې سره ګډې اوبه
په دې هستۍ د ښځې نوم پورې شو
ادم یې سیورې د ښکلا ته ویده
دې لوېټې لاندې ماشوم للو کړ
له پاسه نور د خدای پرې وورېده
ماشوم پرې پوه نه شو ادم خبر نه
ښځې د ستورو هومره رنځ ولیده
ماشوم چې وړی شو شیدې یې ورکړې
ادم چې سترۍ شو دې ونازاوه
ښځه هم وږې وه هم سترې سترې
هېڅ څوک په دغه راز ونه پوهېده
ماشوم چې لاس خلاص کړ د مور خندا وه
ماشوم چې لاس خلاص کړ د مور خندا وه
ادم چې لاس پرانیست ، ددې په کې زړه

***

## زاري

**خیر محمد زهیر دشماري**

زما د ژوند په شاړه للمه ځمکه
راټوکېدلي څو رنګین ګلونه
لکه د ښکلي جانان حسین حسین ګلونه
اې د ژوندون د بڼ ښایسته مالیاره
د کایناتو ربه
د ټول جهان واکداره
درته زاري کوم ، منت کوومه ، سوال کوومه
ته پرې د رحم باران وورووه
پدې سوکړه وطن کې
لکه زهیر اسماري
چې د هاړ په لمر یې ونه سزې

***



لومړی کال ځلورمه ګڼه

ستوری

# پښتانه ستوري

امیر رزاق ساحل

هغه څلور ستوري چې ښکاري هغه کټ پروت دی
هغه د هر لوري چې ښکاري هغه کټ پروت دی
د کټ په پښې پورې يوه بيزه تړلې ده چا
زما د کور کلي ادا را نقل کړې ده چا
او د پخوا ګوره چې بلبږي دا هغه زهرا ده
چې د ښايست قيصې يې کېږي دا هغه زهرا ده
پخوا هلک په دې زهرا بانډې مئين يادوو
ښکلې خواني يو ليونتاری او حسين يادوو
د سر خوړلي مئين نوم هم هډو سر خوړلی
د سبا ستوری شه هغه ځان په سحر خوړلی
خو محبوبا يې په دې بام کړه اسماني ستوری
چې نن کوي په ټول اسمان کې سلطاني سوری
دې ښايسته او رڼا ستوري ته زهرا وايي
دې ته مجنون وايي او هغه ته ليلا وايي
دا دوله ستوري چې دا يو ځای شي په کومه شپه کې
د شب قدر تقدس لري په دې سبعه کې
نه په بوراق نه په رسی نه په باوري ختلي
دې اسماني لمن ته دا په عاشقی ختلي
ددوی قيصه چې هر چا کړې ده په خپله ژمکه
خپله قيصه يې بس کنړلې ده په خپله ژمکه
خو د جهان خلک دا ستوري ګڼي عام ستوری
پس پښتانه دي چې دا ګڼي د خپل بام ستوري
داسې زمونږ د روزمرې محاورې برخه ده
لکه چې دا قيصې زمونږه د ژړنې برخه ده
زمونږ مينې او ښايست ته په خندا اوسه
د پښتنې ژمکې اسمانه ته ګواه اوسه

ستا په لمن کې ځای د چا دځايېد و نښته
زمونږ نه غير پدې ځای د بل د اوسېد و نښته
تا ته که نن هم په راکټ کې شهزاده ختلې
ځان ته يې ځای ستا په فراخه امن نه دی کړې
په تا قامي اتڼ زمونږ بخرو سرو ښکاري
اسمانه غبږ دې نه ده کور د پښتنو ښکاري
د کهکشان د لويې لارې نه لږ دې طرف ته
په لوی اسمان د لويې لارې نه لږ دې طرف ته
د کوهې منځ ته غورځېدلی پر نيازبين ورکی
ماشوم د لويو د خيارو يو حسين ورکی
دا نازولي ښولي وروړ د اووه خويانډو
دا ايکلی يو د سترګو تور دی د اووه خويانډو
چې په کوهې راغورځېدلی دی او ډېر کوي
د خپل اورې د بيچ کولو څه تر بېر کوي
د الله چې څه سې ساختګی دا نقل شري دلته
د وروړ او خور د مينې رسم دی دا نوی دلته
مونږ د اسمانه لاندې کړې نش خوبونه نه دي
مونږه ستايلي تش شنکې خالونه نه دي
مونږه په ستورو کې د ژوند قيصې ليکلې هم دي
ليکلې څه چې مونږه دا سندرې کړې هم دي
تلې را وختلې پېرونه پرېوتل
په ما مئينه ياره کتنه ګڼې کېوتلې
او داسې نورې په سوونو تپې هم شوي دي
سوونه څه چې په زرګونو تپې هم شوي دي
چې پکې مونږه د اسمان سره خبرې کړو
په روايتو کې د شان سره خبرې کړو
د پښتنې ژمکې اسمانه ته ګواه اوسه
که مونږه نوم نه لرو ته خو پښتونخوا اوسه

۶۴

امیر رزاق ساحل

ستا په لاره سیوری د اغیارو د دېوال نیسم
څه چر ته ځان له د رقیب په نامه فال نیسم

دا په لولکو اور ورکو پسې چې زغلمه
زه د خیال په ګوتو پلوشې ستا د جمال نیسم

زه د پښتونخوا په لوړو غرونو کې راوالوتم
تا ویل چې بازونه د خورو زلفو په جال نیسم

هغه د اختر د سحر رنګ دې د رقیب کره
زه دې چې روژې د شب قدر کال په کال نیسم

زړه لکه رومال د مینې راز لکه سکروټه ده
او څومره نادیده یمه سکروټې په رومال نیسم

رُخ د دلفرېبه هنګامو هډو معلوم نه دی
ټولې دروازې ستا د راتلو په هریو خیال نیسم

زړه مې په شوخۍ کې ستا د مخ سره سیالي غواړي
زه ورباندې داغ ستا د جمال د خط و خال نیسم

زه د ازمېښتونو په بایلات کې نیم نیم کانی شوم
مینه د سکنړې څه جادوګره د بنګال نیسم

ګرم شوم په تا ساحل تاوونو کشیده کړمه
اُوس لکه خُمار اور په اوبو کې په کمال نیسم

***

د ستوري استازي

| | |
| --- | --- |
| کابل | استاد عبدالظاهر شکیب |
| ننګرهار | شفیع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کریاب |
| اسمار | طارق سالارزی |
| لغمان | امین الدین |
| باجوړ | سید اغا میاخېل |
| پېښور | ذبیح شفق |
| جرمني | نسیم ستوری |

پته

د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی (طلایي بانډه)، د ستوري د خپرونې اداره
www.kabirstori.com

کوټوال: 0772931465
حیات 0774322484
کوچوان 0772935377

***

ستوری مجله د هېچا د لیکنې ننګه نه کوي، هرلیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي
ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي


# ستوری Stori

خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****

د امتیاز څښتن:د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه
مسئوول مدیر: عرفان اللهّ کوټوال  مرستیال: هدایت اللهّ حیات
کتنیلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت اللهّ ملنګ، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، ګلرنګ کوچوان
سلاکاره ډله: مرستیال څېړونکی وجیه اللهّ شپون، عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع اللهّ تاند
همکار غړي: رحیم اللهّ خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

د " ستوري " استازي:
کابل: عبدالظاهر شکیب  ننګرهار: شفیع الله تاند
کونړ: نعمت الله کریاب  اسمار: طارق سلارزی
لغمان: امین الدین  باجوړ: سیداغا میاخیل  پېښور: ذبیح شفق
جرمني : نسیم ستوری